# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یک شنبه د ۱۴۰۰ د چنګاښ ۲۰مه | د ۲۰۲۱ د جولای ۱۱مه | ۷۴۷مه ګڼه


## پوهنتون

۴ مخ

### جامي پوهنتون

جامي پوهنتون په لوېديځه حوزه کې لومړنی هغه پوهنتون دی، چې له لوړو زده کړو وزارت څخه يې ټولو فارغو شوو محصلينو ته ډيپلومونه اخيستي دي.




# د کورنۍ جګړې په تړاو خبرداری؛

## ولسمشر غني: که طالبان جګړو ته دوام ورکړي، افغانستان به د يمن او سوريې په برخليک اخته شي



۳

## افغانستان کوم لوري ته ځي؟

۲ مخ

## ولسمشر غني ته پرانيستې ليک

۲ مخ

## میراث آمریکا در افغانستان چیست؟

۳ مخ

## کرنې وزارت: په لغمان کې د سويابينو د کرکيلې د پراختيا په موخه ۲۰ ننداريزې کروندې جوړېږي



کرنې او مالدارۍ وزارت وايي، چې په لغمان کې د سويابينو د کرکيلې د پراختيا او ترويج په موخه ۲۰ ننداريزې کروندې جوړېږي. د دغه وزارت وياند اکبر رستمي رسنيو ته وويل، چې د دغو ننداريزو کروندو جوړولو په پار بزګرانو ته د سويابينو اصلاح شوي تخمونه او کېمياوي سرې ورکړل شوې دي. د نوموړي په خبره، هر بزګر ته ۱۲ کيلو ګرامه د سويابينو اصلاح شوي تخمونه، ۲۰ کيلو «DAP» او ۱۵ کيلو يوريا سره ورکړل شوې دي. د سرچينې په خبره، تر دې وړاندې هم د لغمان د کرنې رياست په همکارۍ د لغماني کروندګرو له خوا په دغه ولايت کې د سويابينو کرکيله شوې وه چې بزګرو ورڅخه د قناعت وړ حاصلات ترلاسه کړل. د هغه په وينا، څېړنو ښودلې چې په لغمان ولايت کې د سويابينو کښت ښه حاصل ورکوي. د يادونې ده چې سويابين بشپړه پروتيني او مغذي مواد لري او د کورنيو په روغتيا په ځانګړې ډول د ماشومانو د خوارځواکۍ په مخنيوي کې رغنده رول لري.

## لاوروف: په افغانستان کې روان وضعيت د جدي اندېښنې وړ دی

د روسيې د بهرنيو چارو وزير سرګې لاوروف وايي، په افغانستان کې روان وضعيت د روسيې متحدو هېوادونو قلمروونو ته د احتمالي سرايت له کبله د اندېښنې وړ دی. لاوروف دغه څرګندونې په مسکو کې د هند د بهرنيو چارو له وزير اېس جي شنکر سره په يوه خبري غونډه کې کړې دي. نوموړي زياته کړې: «طبعاً د افغانستان پېښې موږ ته د اندېښنې وړ ځکه دي، چې له هغه ځايه دغه ستونزې زموږ د متحدينو قلمرو ته سرايت ونه کړي. دې ته په پام چې طالبانو له ايران او تاجکستان سره پر بندرونو کنټرول ټينګ کړی او تر هغو چې دغه پېښې د افغانستان په خاوره کې پېښېږي، موږ له دې پرته چې د سياسي پروسې د پيلېدو لپاره په خپلې پرله پسې غوښتنې چې ټول افغانان يې خبره کوي، ټينګار وکړو، په هېڅ صورت نيت نه لرو چې پر وړاندې يې اقدام وکړو.»

لاوروف له دې مخکې ويلي وو چې د ډله ييز امنيت د سازمان تړون به د افغانستان او تاجکستان په سرحدونو کې د پاروونکو تحرکاتو د مخنيوي لپاره پر اقداماتو لاس پورې کړي. بلخوا په دې ناسته کې د هند د بهرنيو چارو وزير هم په افغانستان کې د تاوتريخوالي د کمېدو غوښتنه کړې او د افغانستان امنيت يې د سيمې د امنيت لپاره مهم بللی دی.

## پنټاګون: د افغان جګړې د ختمولو لپاره بايد نړيوال فشارونه ډېر شي




۲ مخ

## همزمان با از سرگیری مذاکرات بین الافغانی زلمی خلیلزاد نیز به دوحه رفته‌است



همزمان با از سرگیری مذاکرات میان هیئت‌های جمهوری اسلامی افغانستان و طالبان در دوحه، زلمی خلیل‌زاد، نمایندهٔ ویژهٔ امریکا برای صلح افغانستان نیز به دوحه رفته‌است.

آقای خلیل‌زاد در تویترش نگاشته‌است که به دوحه و منطقه برگشته‌است تا تلاش‌هایش را برای یک توافق صلح میان جمهوری اسلامی افغانستان و طالبان ادامه دهد.

پیش‌تر وزارت خارجهٔ امریکا نیز در اعلامیه‌یی، گفت که خلیل‌زاد دور تازه از سفرهایش را به کشورهای منطقه به ویژه قطر، پاکستان و ازبیکستان، آغاز کرده‌است. آقای خلیل‌زاد در رشته تویتی، با اشاره به سخنانش اخیر جو بایدن، رئیس‌جمهور امریکا، گفته‌است که مأموریت نظامی امریکا در افغانستان به پایان رسیده‌است، اما تعهداتش هنوز هم ادامه دارند.

او هم‌چنین تأکید کرده‌است که مشکل افغانستان راه‌حل نظامی ندارد و باید از راه مذاکره حل شود. به گفته وی: «ما شدیداً با تمامی جناح‌های افغانی و شرکای منطقه‌یی و بین‌المللی کار خواهیم کرد تا به طرف‌ها کمک کنیم که یک راه حلی برای ختم جنگ پیدا کنند.»

این درحالی است که مذاکرات دوحه که از ماه‌ها بدینسو متوقف بود، اخیراً از سر گرفته شده‌اند. هیئت مذاکره کننده جمهوری اسلامی افغانستان می‌گوید که در روزهای اخیر پنج نشست میان تیم‌های تماس دو طرف برگزار شده‌است.


کتاب مو
د ژوند ملګری کړئ

Aksos
اکسوس کتاپلورنځی

کابل دريمه ناحيه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652 | Aksos Book Store
www.aksosbookstore.af | aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

### افغانستان کوم لوري ته ځي؟

طالبانو په تېرو دوو میاشتو کې بې‌ساری پرمختګ کړی. دوی ادعا کوي چې ۱۵۰ ولسوالۍ یې نیولي، خو حکومتي چارواکي دا ادعا ردوي او وایي چې له ځینو ولسوالیو یې تکتیکي شاتګ کړی چې ژر به یې بېرته ونیسي. د سقوط شوو ولسوالیو له کره شمېره که تېر شو، خلک ګوري چې طالبان د ډېری ولایتونو تر مرکزونو را رسېدلي دي. د جګړې دغه روان حالت او د ولسوالیو سقوط خلک اندېښمن کړي، ځینې وېره لري چې ښایي جګړې تر ښارونو راشي، ځینې بیا د جګړې دوام ته اندېښمن دي او ځینې بیا له بل بد حالته وېرېږي.

اوس له هر چا سره همدا پوښتنه ده چې افغانستان کوم لوري ته روان دی؟

په افغانستان کې بدلونونه ډېری وخت د وړاندوینې او اټکل وړ نه وي. ډېر کله حالات په ډراماتیک ډول بدلېږي او ډېر څه د پخوا خلاف شي. کله خلک فکر کوي چې د سولې پروسه سمه روانه ده، په خبرو کې پرمختګ کېږي، خو یو ځل جګړه زور واخلي او هر څه ګډوډ کړي. همداسې کله جګړه سخته وي، خو په منځ کې یې یوه پېښه د مثبتو بدلونو سبب شي. د دغو بدلونو ستر لامل دا دی چې د جګړې ښکېل اړخونه د افغانستان د خلکو د هیلو او غوښتنو پر اساس عمل نه کوي، بلکې ډېر کله د معلومو او نا معلومو بهرنیانو دریځ او فرمایش ټاکونکی وي، نو ځکه حالات هغسې بدلېږي چې له وړاندې یې اټکل ستونزمن وي.

په تېرو دوو میاشتو کې د طالبانو پرمختګ د اټکل وړ نه و. د خلکو په ګډون، حکومت او آن خپله طالبانو هم فکر نه کاوه چې داسې کار به په دومره چټکۍ کېږي. له همدې امله حالت ګونګ او مبهم شوی دی. اوس له یوه اړخه د جګړې شدت دی، لا هم پر ډېرو ولسوالیو جګړه ده، حکومت د ځینو ولسوالیو د بېرته نیولو هڅې هم کوي. دواړه اړخونه د عملي جګړې تر څنګ یو د بل پر ضد تونده ژبه هم کاروي. دواړه یو بل جګړه غوښتونکي او د سولې ضد ګڼي. اوس د دې پر ځای چې د ستونزې پر حل تمرکز وشي، یو پر بل تورونه لګېږي. د زور خبرې کېږي او د یو بل د وژلو خبرونه په ویاړ خپرېږي.

دا حالت ښیي چې له بده مرغه بیا هم جګړه دوام کوي. د جګړې دا دوام داسې دی چې ورسره یې بڼه هم بدلېږي، تر ښارونو رسېږي، خونړۍ کېږي او ارزښتونه پکې تر پښو لاندې کېږي. دواړه لوري سره له دې چې وایي د جګړې دوام نه غواړي او ستونزه باید د خبرو له لارې حل شي، خو بیا هم جګړه کوي او سوله یې څنګ ته کړې ده. که د دواړو اړخونو دریځونه او کړنې داسې وي، لکه اوس چې دي، نو دا لاره یوازې یوې ناوړه کورنۍ جګړې ته تللې چې په هېڅ ډول نه توجیه کېږي او نه یې هم ښکېل اړخونه ځان پر حقه ګڼلی شي.

دواړو اړخونو ته پکار ده چې دا حالت درک کړي، افغانستان په لوی لاس د جګړې لوري ته بو نه ځي. دوی باید د جګړې پر ځای پر سوله تمرکز وکړي، اوربند باید وشي، بندیان خوشې شي او همداسې نور ګامونه باید واخیستل شي تر څو واقعي سولې ته لاره هواره شي.

# ولسمشر غني ته پرانیستی لیک

لیکنه: عبدالوحید وحید

ښاغلی ولسمشره!

پوهېږم ستاسو مزاج په ډیموکراسۍ کې شاهانه دی. د سالم انتقاد اورېدل هم نه خوښوی، خو ښښنه غواړم. ولس مو ناامنیو، لوږې او اندېښنو په سر اخیستی دی. هېواد مو د جګړو په تنور کې سوځي او په ما باندې وجدان حاکم دی.

نن دا مسئله نه څېړم چې امریکا او ناټو مات او مجبور شول چې زمونږ له هیواد څخه ووځي او که واقعاً یې موخې تر لاسه کړې او د وتلو پرېکړه یې وکړه. دغه پرېکړه به تاریخ ته پرېږدم. نن دومره وایم چې مونږ مات شوی ملت یو. مونږ د ستونزو په سمندر کې نښتي یو. زمونږ هیواد یو ځل بیا د کورنۍ جګړې په درشل کې قرار لري. له دواړو خواوو د افغاني مورکۍ مسلمان زامن وژل کېږي. زمونږ سیاسیون د بدلونونو په تناظر کې د خپلو ګټو لپاره د بهرني ملاتړ په کمپاین اخته دي، یا پردیو هیوادونو ته د تېښتې تابیا نیسي او یا ناهیلي شوي او د مبارزې وړتیا یې له لاسه ورکړې ده.

که زمونږ واکمنانو د تېرو شلو کلونو په اوږده موده کې د بهرنیو ځواکونو د نشتون په تړاو فکر نه کاوه او له شتون څخه یې د خپل هیواد د نسبي ځان بساینې په هکله ګټه پورته نه کړای شوه، نو اوس امریکا ته زارۍ، د مسوولانه وتلو تلقین او د لاسته راوړنو د له منځه تللو عذر بدتر از ګناه دی. هغوی ونشو کولای دغه هېواد له ننني برخلیک سره له مخکېدو وژغوري. د دغې ورځې د حتمي راتلو په تړاو باید شل کاله وړاندې فکر او کار شوی وای. د بایډن د وروستۍ ورځې خبرې د افغانانو د ملي غرور پر مخ ځوروونکې او شرموونکې څپېړه ده چې وایي: «مونږ د ملت جوړونې لپاره افغانستان ته نه وو تللي. افغانان دې پخپله سره جوړ شي.» پردي هر وخت پردي وي. البته زمونږ د شمال ټلوالې همدغه پردي شل کاله وړاندې راوستل. طالبان یې وربانديې ووژل او نن دا ده طالبانو له امریکا سره سوله وکړه، خو افغانان لاهم یو بل وژني، خپلې ملي ودانۍ د فتوحاتو او تصفیې په نومونو له یو بل څخه لاس په لاس کوي او حساب نه کوي چې د چا ودانۍ یې له چا څخه ونیوه او له چا څخه یې تصفیه کړه.

تاسو یوه ورځ په خپلو خبرو کې وویل چې که د امریکا مرسته نه وي، زمونږ حکومت شپږ میاشتې وروسته سقوط کوي. که مو محاسبه دقیقه او په واقعیتونو ولاړه وه، نو ولې مو د امریکا او طالبانو تر منځ له هوکړې سره سم د موقت حکومت جوړولو لپاره د خلیلزاد وړاندیز رد کړ؟ تاسو ولې ونشو کړای چې د خپلو امنیتي ځواکونو د تجهیز په برخه کې د نیمګړتیاوو په تړاو سمه محاسبه ولرئ؟ د دفاع وزارت ویندویانو ولې چیغې وهلې چې اووه نوي سلنه جنګي پلان او عملیات هغوی په خپله کوي؟

د ولس قرباني به نه یادوو او د امنیتي ځواکونو په قربانیو باندې به لاپې نه وهو. تاسو له خپل ادرس څخه د سولې په بدل کې د انعطاف او قربانۍ کوم وړاندیزونه درلودل او یا یې اوس لرئ؟ ټول ملت پوهیده چې امریکا له طالبانو سره پر مذاکراتو بوخت وه او ستاسو حکومت د یوه مطرح اړخ په توګه په انزوا کې قرار درلود، نو تاسو ولې د خپلې انزوا په تړاو غبرګون ونښود؟ ارګ د ننني خراب امنیتي وضعیت په هکله ولې ونشو کړای وار د مخه اړین ګامونه پورته کړي؟ حکومت ولې د مخکینې پلان جوړولو پر ځای له مسایلو سره له مخکېدو وروسته پرېکړې کوي او غبرګون ښیي؟ د ملي امنیت سلاکار له دومره امکاناتو سره سره ولې وایي چې هغوی د افغانستان په شمال کې د طالبانو لخوا د بریدونو په تړاو نه پوهیدل؟

راځئ ومنو چې زمونږ واکمنان د ملت له منځه نه، بلکې یوه برخه یې د پردیو لخوا د خپلو ګټو د خوندیتوب لپاره په مونږ باندې راتپل شوي او نور د جګړو په ډګر کې د ډېرو خلکو د وژلو په معیار رهبران جوړ شوي دي او په مونږ باندې د ټوپک په شپېلۍ حکومت کوي؛ ځکه مو ورځ تر بلې حال بدتر کېږي.

اوس د ولسوالیو د سقوط کیسه زړه شوه. نوبت د بندرونو او سرحدي ګمرکونو سقوط ته راورسېد. کله چې د عوایدو سرچینې سقوط کوي، نو ښاغلیه ولسمشره! درته پاتې څه دي؟ ایا اوس هم فکر کوئ چې هر څه به سم شي؟ د سولې لپاره د قرباني ورکولو اصل ته اوس ژمنتیا لرئ؟ ایا اوس په دغه تړاو معقول او د منلو وړ وړاندیزونه لرئ که څنګه؟

زما په اند، د ننني بحران د راتلو لپاره ستاسو د دویم ځل ولسمشرۍ د لوړې له مراسمو راپدېخوا لاره هوارېده. که داسې نه وي، نو تاسو ولې په خپلو کړنو کې له ملت سره دومره ستر واټن جوړولو ته زړه ښه کړ؟ ولې مو د سیستماتیک فساد په هکله خوله نه چوله کېده؟ ولې مو د مشارکت اصل هیڅ وباله؟ ولې مو له خپلو ملګرو سره د پیوستون پر ځای د بېلتون لاره ونیوه؟ ولې مو د ولس له استازو سره د ټکر تګلاره غوره کړه؟ ولې مو د زورواکۍ ختمولو فساد له منځه وړلو «هیڅ افغان له بل افغان څخه پورته نه دی» او د ټاکنیز کمپاین پر مهال له ولس سره کړیو ژمنو ته شا کړه؟

ښاغلی مشره! زه په ډېرو مواردو کې ستاسو وړتیا، استعداد، ظرفیتونه او پوهه منم، خو نیمګړتیاوې هم لرئ. ستاسو له پورته یادو شویو تخطیو او تخلفاتو څخه ننۍ توپان جوړ شوی. همدغه توپان به دغه هېواد د بحران خواته بیایي او تاسو به د تاریخ په تورو پاڼو کې د ناکام مشر په توګه ځای ونیسئ!

د سمون وخت ډېر تېر شوی، خو که یوه شېبه هم ولرو باید د سمون او بدلون لپاره مبارزه وکړو. فرصتونه مو له لاسه ورکړل، خو راځه نن د سولې لپاره په هر قیمت چې ممکن وي دغه د پاڼ او پړانګ تر منځ ایسار ولس او د کورنۍ جګړې په غاړه ولاړ هیواد د ژغورنې لپاره قرباني ورکړئ. د واک لپاره د مبارزې پر ځای د هیواد د نجات لپاره مبارزه وکړئ. مونږ ته دغه هېواد، خپل ولس، سوله او نسبي نظم ساتل د ارجحیت درجه لري. مونږ اوس هم له نسکور حکومت همدغه ستاسو فاسد حکومت ښه ګڼو، خو وخت رارسیدلی چې نور د مفروضو خیالي محاسبې پر ځای د ملت له مشرانو او نړیوالې ټولنې سره د هیواد د خوندیتوب لپاره ګډ کار وکړئ. له خپلو ملي مشرانو څخه سلا وغواړئ. په مشورو کې فرمایشات مه ورکوئ. د سولې د تامین لپاره بشپړ واک ورکړئ. د ګاونډیانو سیمې د ځواکمنو هېوادونو په ګډون د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له پنځو واړو غړیو څخه رسماً له اوسني بحراني حالت څخه د وتلو لپاره مرسته وغواړئ. نور هغه وخت نه دی چې ووایاست تحمیلي سوله، بهرنۍ طرحه او تپل شوې سوله نه منم. د سولې په موخه د اوسنیو مشرانو په واک کې پاتې کېدو غوراوی په هیڅ ډول د توجیه او منلو وړ خبره نه ده. په دغه ډول خبرو باندې وخت تېرول ستونزه نوره هم زیاتیږي.

ستاسو د اشتباهاتو له امله اوس طالبان د هوا په نیلي سپاره شول، ځکه ورته نه ښکاري، د خپلو ولسوالیو نیولو ته د فتوحاتو نوم ورکوي او همدغه لړۍ دوام لري. هغوی اوس د سنجیده ګام پورته کولو لپاره نه وخت لري او نه هم اړتیا محسوسوي. هغوی په جګړه کې برلاسي دي، نو اوسنی مسوولیت ارګ مېشتو ته متوجه کیږي چې څنګه د خپل واک پر ځای د خپل هېواد او ولس د ستونزو او ممکنه ګډوډۍ مخه ونیسئ.

په هر هغه غوراوي باندې باید کار وشي چې دواړه اړخونه وربانديې جوړېږي او نړیواله ټولنه یې کلک ملاتړ وکړي. له بې پرې خلکو څخه جوړ موقت حکومت، د ښکېلو اړخونو په خوښه د بې طرفه مشر تر قیادت لاندې له دواړو اړخونو څخه جوړ او یا هم بله هره حللاره چې هوکړه وربانديې راتلای شي.

# پنټاګون: د افغان جګړې د ختمولو لپاره باید نړیوال فشارونه ډېر شي




په داسې حال کې چې په دې وروستیو کې په هېواد کې جګړې او نښتې اوج ته رسېدلي، د امریکا دفاع وزیر د دې جګړې د ختمولو لپاره د نړیوال فشار غوښتنه کړې ده.

لوېډ اسټن ویلي، چې په افغانستان کې امنیتي وضعیت یوازې پر دې دلالت کوي چې نړیوال باید نور فشار راوړي، تر څو د جګړې د ختمولو لپاره د خبرو له لارې سیاسي جوړ جاړی وشي.

اسټن زیاتوي، افغانان باید داسې حکومت ولري چې دوی یې غواړي او مستحق یې دي. د هغه په خبره، نړیوال د لازم فشار راړولو له لارې په دې چاره کې مرسته کولای شي. د امریکا دفاع وزیر دا څرګندونې داسې مهال کوي، چې په افغانستان کې امنیتي وضعیت پر ولسوالیو او د ولایتونو پر مرکزونو د طالبانو د بریدونو له کبله ډېر خراب شوی.

بلخوا وروسته له دې هغې چې د هرات اسلام کلا بندر د طالبانو لاس ته ولوېد او افغان ځواکونه ترې ایران په شا ولاړل، د ایران د ځمکنیو ځواکونو د عملیاتي چارو مرستیال قوماندان ویلي چې ایراني ځواکونه د ګډ سرحد په اوږدو کې پوره چمتو دي او ډېر واړه تحرکات هم څاري. ایرنا خبري اژانس د برید جنرال فرهاد اریانفر له قوله خبر ورکوي، چې د ایران په ختیځ او جنوب ختیځ کې د سیستان او بلوچستان ایالت په سلګونه کیلومتره خاوره کې سرحدي ګارد او سپاه پاسداران ځواک عملیات کوي. اریانفر ویلي چې ایراني ځواکونه په دقت سره وضعیت څاري او په سرحد کې به ډېرو کوچنیو غیر قانوني تحرکاتو ته هم اجازه ورنه کړي.

دا په داسې حال کې ده چې ورمه ورځ د هرات د اسلام کلا ګمرک یوه مسوول وویل چې افغان ځواکونه له اسلام کلا بندره وتلي او دا بندر اوس د طالبانو په ولکه کې دی. که څه هم افغان حکومت وایي چې یاد بندر یې بېرته له طالبانو نیولی، خو دې ډلې ټینګار کړی چې اسلام کلا بندر تر اوسه هم د دوی د جنګیالیو په واک کې دی.

# میراث آمریکا در افغانستان چیست؟

**ضیا شهریار- بی‌بی‌سی**

نیروهای آمریکایی روز جمعه گذشته دوم جولای در برابر چشمان حیرت‌زده گروهی از سیاستمداران و مردم افغانستان پایگاه استراتژیک بگرام در شمال کابل را به صورت کامل تخلیه کردند و مهمترین پایگاه نظامی غرب، در جنوب آسیا و آسیای میانه به نیروهای امنیتی افغانستان تحویل داده شد .

این رویداد که به گفته لیزدوست، خبرنگار ارشد بین‌المللی بی‌بی‌سی «سردسته تحولات» این روزهای افغانستان به شمار می‌رود، تقریباً همه از جمله شماری از سیاستمداران افغانستان مثل حامد کرزی، رئیس جمهوری پیشین و امرالله صالح، معاون فعلی رئیس جمهور افغانستان را در این مورد غافلگیر ساخت که آمریکا تصمیم به خروج کامل از افغانستان را گرفته و در حال اجرای آن است.

آقایان کرزی و صالح در گذشته بارها گفته بودند که حرف‌های رهبران آمریکا در مورد خروج کامل نیروهای این کشور از افغانستان «تبلیغاتی بیش نیست و به دلیل اهمیت استراتژیک افغانستان، آمریکا هرگز این کشور را به صورت کامل ترک نخواهد کرد.»

پایگاه بگرام در حالی تخلیه می‌شود که در هفته‌های اخیر پیشرفت‌های گروه طالبان در ولایت‌های شمال و شمال- شرقی افغانستان با سرعت باورنکردنی ادامه دارد و در کل این گروه مدعی است که از ۳۸۸ ولسوالی این کشور، بیشتر از ۱۵۰ ولسوالی را به صورت کامل به تصرف خود در آورده‌اند.

مقامات دولت افغانستان می‌گویند که خروج کامل نیروهای آمریکایی و ناتو از افغانستان تاثیرات «تاکتیکی و روانی» روی نیروهای امنیتی افغانستان گذاشته و به زودی با تقویت دوباره «روحیه نیروهای امنیتی» ولسوالی‌های از دست رفته به خصوص در شمال و شمال- شرق این کشور از کنترل طالبان خارج خواهد شد.

**سفر پر مخاطره ۲۰ سال گذشته**

در سال ۲۰۰۱ وقتی آمریکا در راس ائتلاف بین‌المللی و در پی حملات یازدهم سپتامبر به افغانستان حمله کرد، افغاستان تحت حاکمیت تندروانه طالبان به شدت منزوی بود، جنگ داخلی در مناطق وسیعی شمال افغانستان جریان داشت، شاخص‌های اقتصادی و اجتماعی کشور در پایین‌ترین سطح ممکن قرار داشت و زنان از عرصه زندگی عمومی ناپدید بودند.

پس از ورود آمریکا به افغانستان و با سقوط رژیم طالبان، امیدهای زیادی جوانه زد مبنی بر اینکه پیشرفته‌ترین کشورهای جهان تحت رهبری آمریکا، افغانستان را طی چند سال آینده به صورت بنیادی متحول خواهند ساخت و دیگر در سایه حمایت آمریکا و ناتو افغانستان به امنیت و ثبات دایمی دست خواهد یافت.

شهروندان عادی افغانستان در سال ۲۰۰۱ پس از دو دهه تجاوز خارجی و جنگ داخلی، به شدت خسته و مانده بودند؛ ولی تحولات آن سال آرزو را دوباره در آنها زنده کرده بود.

طبق آمار رسمی، در این ۲۰ سال آمریکا حدود ۸۵۰ میلیارد دالر در افغانستان مصرف کرده که حدود ۱۷۰ میلیارد آن روی بازسازی در این کشور هزینه شد.

بازسازی یا نوسازی ساختمان‌های دولتی، مدارس، پوهنتون‌ها، جاده‌ها و شاهراه‌ها و شفاخانه‌ها آغاز شد، دختران به مکتب بازگشتند و زنان هم اجازه حضور در زندگی عمومی یافتند، رسانه‌های آزاد ایجاد شد، پول جدید در کشور ضرب و چاپ شد و روندهای دموکراتیک هم هرچند نوپا و شکننده، شکل گرفت.

این سفر ۲۰ ساله افغانستان اما مملو از دشواری‌ها، اشتباهات، بی‌تجربگی‌ها، فساد گسترده، اختلافات عمیق کلاس سیاسی در کابل، ناتوانی و بی‌توجهی آمریکا و متحدانش، دخالت‌های کشورهای همسایه و بالاخره بالا گرفتن دوباره شورش طالبان بود.

حالا که نیروهای آمریکایی و ناتو از افغانستان خارج شده، میراث آمریکا از نظر سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی در این کشور چیست؟

این سوال را با چهار کارشناس امور افغانستان در میان گذاشتم:

**«میراث زودگذر، شکننده و بی‌دوام»**

از نظر سیاسی آمریکا یک نظام نیم‌بند و شکننده دموکراتیک بر اساس مولفه‌های چون انتخابات، آزادی بیان، و ارزش‌های حقوق بشری را به میراث گذاشته است.

گسترش بی‌رویه فساد اداری و قدرتمند ساختن جنگ‌سالاران در بیست سال گذشته از دیگر ویژگی‌های میراث آمریکا است که برگشت نظام جنگ‌سالاری بعد از خروج نیروهای بین‌المللی در افغانستان را تسهیل می‌کند.

رشد اقتصادی افغانستان در دو دهه گذشته، اقتصاد بازار آزاد که منجر به ثروت‌اندوزی طبقه ثروتمند و گسترش شکاف اقتصادی بین ثروتمندان و فقرا در جامعه شد و وابستگی افغانستان به کمک‌های بین المللی و تلاش برای استخراج معادن که نفع اندکی هم برای مردم افغانستان داشت، میراث اقتصادی آمریکا در افغانستان است.

بلند رفتن سطح سواد، دسترسی همگانی به خدمات صحی و آموزش، بلند رفتن سطح آگاهی عامه، آزادی رسانه‌ها و آزادی بیان دستاوردهای اجتماعی بجا مانده از دخالت آمریکا در افغانستان است.

از نظر امنیتی شکل گرفتن ارتش و پلیس ملی افغانستان دستاورد عظیمی است، اما مایه ناامیدی است که با وجود میلیاردها دالر سرمایه‌گذاری و بیست سال تجربه جنگ و آموزش محاربوی، ارتش افغانستان این روزها بدون مقاومت در حال واگذاری شمار زیادی از ولسوالی‌ها به طالبان است.

در نهایت میراث آمریکا در افغانستان در تمام عرصه‌ها زودگذر، شکننده و بی‌دوام است.

**«برای حفظ میراث آمریکا به تداوم نیاز است»**

اگر از بعد اقتصادی میراث آمریکا را در افغانستان نگاه کنیم، حجم کمک‌های فراوانی که به اقتصاد افغانستان شد، اگر بسترهای مناسب می‌بود و به سمت یک اقتصاد تولیدی می‌رفتیم، طبیعتاً حالا فضای افغانستان به شدت متفاوت بود. ولی اساساً چون اقتصاد افغانستان یک اقتصاد جنگی بود و مسایلی مثل تولید مواد مخدر، ناامنی‌ها، توزیع نابرابر ثروت و فساد وجود داشت، بناء این کمک‌ها منجر به یک اقتصاد تولیدی نشد. با این وجود در ۲۰ سال گذشته شاهد رشد اقتصادی بالا در افغانستان بودیم. بعضی از عناصر رفاه در جامعه ایجاد شد و سطح زندگی خیلی از مردم تغییر کرد.

موضوع امنیت در افغانستان سه محور اساسی دارد؛ بعد داخلی، منطقه‌ای و بین‌المللی که میراث آمریکا در این عرصه در بعد بین‌المللی آن مطرح است. کمک‌های آمریکا و متحدان آن ارتقای زیادی در ارتش افغانستان نسبت به بیست سال گذشته ایجاد کرد ولی نکته اساسی این است که تداوم این روابط امنیتی با نیروی امنیتی افغانستان چگونه خواهد بود. موضوع تداوم کمک‌ها و همکاری‌های امنیتی آمریکا با افغانستان سرنوشت امنیت افغانستان را رقم خواهد زد.

در عرصه سیاسی، تلاش برای ایجاد یک دموکراسی در افغانستان بیشتر به دلایل داخلی منجر به شکست شد. آمریکا به باور من نتوانست به ایجاد یک دموکراسی بنیادین در افغانستان کمک کند، هرچند که ایجاد دموکراسی در یک کشور منوط است به نیازهای آن جامعه و تلاش‌های نخبگان سیاسی و مردم آن جامعه برای رسیدن به دموکراسی. با این وجود آمریکا به عنوان جایگاه بلندی که در افغانستان برای خود ایجاد کرده بود، می‌توانست کمک مؤثرتری برای ایجاد دموکراسی دوامدار در افغانستان بکند.

از بعد اجتماعی، حضور آمریکا به باور من خصوصاً کمک‌های اقتصادی این کشور به ایجاد یک طبقه متوسط نسبتاً قوی در افغانستان منجر شد، که می‌توانست نیروی اصلی محرکه توسعه کشور باشد، اما از سال ۲۰۱۴ ما شاهد بودیم که این طبقه متوسط و عمدتاً تحصیل‌کرده از افغانستان خارج شد و در شرایط حاضر بخش عمده طبقه متوسط که امیدهای زیادی به آنها وابسته بود، افغانستان را ترک کرده‌اند.

در پهلوی آن کمک‌های کلان اقتصادی آمریکا از لحاظ اجتماعی منجر به شکل‌گیری یک طبقه مرفه هم شد که این طبقه در بخش‌های زیادی با اقتصاد مافیایی در افغانستان مرتبط است. در عین زمان با مهاجرت طبقه متوسط از افغانستان روز به روز بر تعداد افراد طبقه فقیر و کسانی که زیر خط فقر هستند، افزوده می‌شود.

نکته دیگر در بعد اجتماعی، بالا بردن نقش زنان در افغانستان است که در بعضی از موارد کارهای بنیادی صورت گرفته است و آگاهی خوب به زنان داده شده و در موارد دیگر بیشتر نقش نمادین داشته. رشد رسانه‌های اجتماعی و رسانه‌های دیداری، شنیداری از دیگر مواردی است که جز میراث ایالات متحده در افغانستان به شمار می‌روند.

ولی به عنوان جمع‌بندی باورم این است که در هر چهار عرصه، نیاز به تداوم وجود دارد، در غیر آن می‌شود گفت میراثی که آمریکا در افغانستان از خود بجا گذاشته، موقتی است و پایدار و با ثبات نخواهد بود.

**«هیچ میراثی باقی نخواهد ماند اگر خروج مسئولانه نباشد»**

بعد از حادثه یازدهم سپتامبر هر انکشافی را که امروز در افغانستان می‌بینیم، میراث آمریکا و متحدانش است. نهادهای ارتش ملی، امنیت ملی و پلیس ملی، با ظرفیت، کیفیت و کمیتی که وجود دارد، توسط آمریکا ساخته شده است.

از نقطه نظر سیاسی، احزاب، حرکت‌های مدنی، آزادی بیان، دموکراسی، زعامت کشور براساس رای مردم، پارلمان و آزادی زنان، اینها همه میراثی است که آمریکایی‌ها و متحدانش در افغانستان پشت سر خود بجا می‌گذارند.

اما هیچ کدام از اینها باقی نخواهد ماند، هیچ میراثی باقی نخواهد ماند، اگر از این میراث‌ها حفاظت نشود و خروج جهان از افغانستان مسئولانه نباشد.

**«میراثی با تناقض درونی که منجر به عقبگرد استراتژیک می‌شود»**

میراث آمریکا در افغانستان، میراث یک تحول ناپایدار است. عناصری از این میراث افغانستان را عمیقاً از منظر سیاسی، اجتماعی و اقتصادی متحول کرد. بدون آمریکا چنان دگرگونی‌هایی نه ممکن بود، نه شدنی. تناقض درونی میراث آمریکا در افغانستان این است که در خودش همزمان عناصری را پروریده که می‌تواند ثبات و تداوم آن‌چه به دست‌آمده را به خطر بیفکند و منجر به عقب‌گرد استراتژیک در بعد اقتصادی، سیاسی و نظامی شود.

در حالی که مثلاً افغانستان در نتیجه حمایت و دخالت آمریکا از انزوای مطلق جهانی بیرون کشیده شد؛ صاحب دولت و حاکمیت نیمه دموکراتیک شد و نسلی از افغان‌ها صاحب سواد و مدعی شهروندی دموکراتیک شدند، با رفتن آمریکا بیخ و بن این دستاوردها سست شده است.

# د کورنۍ جګړې په تړاو خبرداری؛

## ولسمشر غني: که طالبان جګړو ته دوام ورکړيٍ، افغانستان به د یمن او سورېې په برخلیک اخته شي



ولسمشر غني له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتلو ته په اشارې وویل چې طالبانو په هېواد کې جګړې او تاوتریخوالي ته زور ورکړی او د اوسني حالت د دوام هر ډول مسوولیت به د دې ډلې پر غاړه وي. نوموړي خوست ولایت ته د سفر پرمهال یوې لویې غونډې ته په خبرو کې وویل، چې د افغانستان حکومت د سولې ټینګېدو لپاره هر اړخیزې هڅې کړې، خو طالبانو تاوتریخوالي ته دوام ورکړی دی. د نوموړي په خبره: «طالبان باید د سولې خبرو ته کېني او د پردیو په لمسون دې خپل هېواد نه ورانوي.»

غني دغه راز زیاته کړه چې تل یې طالبانو ته د سولې وړاندیز کړی، خو په خبره یې، دې ډلې دغه وړاندیز له پامه غورځولی او خپلو جګړو او تاوتریخوالي ته یې دوام ورکړی دی.

د هغه په وینا: «د جګړې د اوږدېدو مسوولیت د طالبانو پر غاړه دی، له طالبانو باید وپوښتل شي چې د چا لپاره جګړه کوي؟ که افغانستان ورانېږي او افغانان وژل کېږي، نو ګټه یې چاته رسېږي.»

ولسمشر غني دغه راز یو ځل بیا پر طالبانو د سولې غږ وکړی او له دې ډلې یې وغوښتل چې اجازه دې نه ورکوي چې افغانستان هم د سورېې، عراق، لیبیا، لبنان او یمن په برخلیک اخته شي او یوې نامعلومې کورنۍ جګړې ته لاړ شي. طالبانو که څه هم د ولسمشر غني دغو څرګندونو ته تازه غبرګون نه دی ښودلی، خو تېرې جمعې په ورځ د دې ډلې یوه پلاوي په مسکو کې یوې خبري ناستې ته د خبرو پر مهال حکومت تورن کړ چې د سولې لپاره جدي اراده نه لري او د مختلفو بهانو پر بنسټ د سولې پر وړاندې خنډونه جوړوي. دغه طالب زیاته کړه چې د خلیلزاد له لارې یې حکومتي چارواکو ته د اورکم او سولې په تړاو خپله طرحه سپارلې وه، خو په خبره یې چې د افغان حکومت چارواکو د دوی یادې طرحې ته هېڅ ارزښت نه دی ورکړی. طالبان زیاتوي چې د دوی په یاده طرحه کې له افغان حکومت غوښتل شوي چې ټول طالب زندانیان خوشي کړي، د دوی د مشرانو نومونه دې له تور لېست څخه و ایستل شي او په بدل کې به یې دوی هم د ولایتونو او ولسوالیو پر مرکزونو له بریدونو ډډه کوي او د جګړې په شدت کې به د پام وړ کموالی راشي. د افغان چارواکو او طالبانو ترمنځ د سولې پر سر دا ناندرۍ داسې مهال دي چې له افغانستانه د ټولو امریکایي او بهرنیو ځواکونو وتلو ته له یوې میاشتې کمه موده پاتې ده، خو د هېواد په ګڼو ولایتونو کې جګړو او نښتو زور اخیستی او هره ورځ پکې پر دواړو لورو سربېره، ګڼو ملکیانو ته مرګ ژوبله اوړي. له دې سره جوخت، د امریکا دفاع وزارت هم په افغانستان کې د تاوتریخوالی اوسنی حالت د اندېښنې وړ بللی او غوښتنه یې کړې چې د سوله ییز حل په موخه د افغان جګړې پر دواړو لورو باید فشارونه ډېر شي.

## د کتـاب خبـرې

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ویکتور فرېنکل**
ژباړن: **میراحمدیاد**




### د بېگار د کمپ (زندان) تجربې

لکه لیسنگ چې ویلي وو: «ځینې داسې پېښې وي چې له انسانه عقل اخلي، گنې نور یې بیخي نه لري.» غیرطبیعي حالت ته غیرطبیعي غبرگون ښودل، طبیعي غبرگون دی. موږ ارواپوهان وایو چې انسان باید غیرطبیعي حالت ته طبیعي غبرگون وښيي، مثلاً که یو کس مرستون (د لېونیانو روغتون) ته لېږل کېږي، نو دا کار غیرطبیعي دی او په مقابل کې یې غبرگون باید غیرطبیعي وي. څومره چې انسان روغ وي، هومره به دا غبرگون غیرطبیعي وي. نو یو کس که زندان ته لېږل کېږي، د دې کار په مقابل کې غبرگون یې غیرطبیعي ښکاري؛ خو که موږ منطقي فکر وکړو، نو دا غبرگون طبیعي دی او لکه څنگه چې به یې وروسته وښیو، دا د راغلي حالت په مقابل کې عادي غبرگون وي.
ما چې مخکې کوم غبرگونونه تشرېح کړل، څو ورځې وروسته په بدلېدو شول. بندیان د ذهني غبرگون له لومړي پړاوه دویم پړاو ته لاړل. دویم پړاو (نسبي بې‌حسي ) وي. دا پړاو د انسان عاطفي مرگ دی.
پر تشرېح شوو غبرگونونو سربېره، نوي راغلي زندانیان له یو ډول عاطفي ځور سره هم مخ وو او هڅه یې کوله چې دا عواطف په ځان کې ووژني. لومړی به یې کورنۍ وریادېده او ډېر زیات به ورته لېواله وو. دا یاد به کله کله دومره زورور شو چې هغه انسان به یې رالاندې کړ. ورپسې بیا کرکه وه؛ په خپل چاپېریال کې له هر څه کرکه، حتی له ظاهري چاپېریاله هم!
زیاتره زندانیانو ته یې داسې خرابې جامې ورکړې وې، لکه خلک یې چې په پټي کې ولاړ ډانگ ته وراغوندي او مرغان پرې وېروي. بلاکونه ټول په خځلو ککړ وو او انسان به یې چې څومره د پاکولو خواري کوله، هومره به له چټلۍ سره ډېر مخ کېده. دلته یو په زړه پورې کار دا و چې نوي راغلي زندانیان د تشنابونو په پاکولو او چټلیو غورځولو وگومارل شي. زیاتره وخت به چې زندانیانو لرې ځایونو ته وړله، د دوی په مخ پورې به نښته؛ خو که د دوی په څېره کې به کرکه او غوسه څرگنده شوه، یا به یې د مخ پاکولو هڅه وکړه، نو کاپوگانو به جزا ورکوله. له دې سره به د عادي غبرگون له منځته تگ نور هم تېزېده.
لومړی به چې زندانیانو د نورو زندانیانو وهل، ټکول او ځورول لیدل، مخ به یې ترې اړاوه، ځکه دا یې نه شوی زغملای چې ملگري دې یې په ختو او جرونو کې ساعتونه ساعتونه ښکته پورته کېږي او وهل دې خوري؛ خو څو ورځې یا اونۍ وروسته به دا حالت بدل شو. سهار وختي به لا رڼا نه وه خپره شوې چې زندانیان به ډلې ډلې په دروازه کې تگ ته تیار ولاړ وو. چیغې به یې اورېدې او ۳۴ انسانان به یې د مانا په لټه لیدل.
یو بندي ولوېده، بیا راپورته شو، بیا ولوېده، ولې؟ ځکه تبه یې وه. روغتون ته بې وخته تللی و او جزا یې په همدې خاطر ورکوله چې ولې بې وخته روغتون ته تللی او له کاره دې ځان پټ کړی دی.
خو کوم زندانیان چې د ارواییي غبرگون له لومړي پړاوه دویم ته تللي وو، هغوی به د بندیانو له ځورونې سترگې هم نه اړولې. احساسات به یې مړه وو او گونگي سونگي به ولاړ وو. بل مثال یې دا و چې یو بندي به روغتون ته په گوډه گوډه پښه په دې تمه لاړ چې د تبې او پښې د پړسوب له امله ورته په کمپ کې دننه اسانه کار ورکړل شي. دی به هلته ولاړ و، په دې وخت کې به یې یو دوولس کلن هلک راووست، دا هلک به ساعتونه بهر یخنۍ ته جزایي درول شوی و، یا به یې پښې لوڅې کار کاوه، ځکه د پښو بوټان یې په زندان کې نه وو. د پښې گوتې به یې یخ وهلې وې، ډاکټر به لگیا و، تورې شوې گوتې به یې ترې یوه یوه په انبور پرې کوله او دا بندي به ورته همداسې گونگی سونگی ولاړ و. د کرکې، وېرې او خواخوږۍ احساسات په دې بندیانو کې نور مړه شوي وو. شکنجې، مرگونه او مړي په زندان کې تر څو اونیو وروسته دومره عادي شول چې چا به پرې ټکان هم نه خوړ. **دوام لري...**

# جامـي پـوهنتون

حمیدالله حمیدي




جامي پوهنتون چې په هرات ولایت کې موقعیت لري، په ۱۳۸۹ کال کې یې د لوړو زده کړو موسسې په چوکاټ کې پر فعالیت پیل وکړ. د جامي پوهنتون د پذیرش برخې مسوولې آغلې ساغر سدوزۍ وویل، دوی د پیل پر مهال څلور پوهنځي درلودل چې حقوقو او سیاسي علوم، اقتصاد، انجنیري او کمپیوټر ساینس پکې شامل وو. د نوموړې په وینا، په ۱۳۹۳ کال کې جامي د لوړو زده کړو موسسې د پوهنتون سطحې ته ارتقاع وکړه او په یاد کال کې یې له لوړو زده کړو وزارت څخه د طب پوهنځي جواز هم تر لاسه کړ. آغلې سدوزۍ زیاته کړه چې دوی په دې وروستیو کې د زراعت پوهنځي جواز هم تر لاسه کړ او په هرات ولایت کې لومړنی پوهنتون دی، چې زراعت پوهنځی یې د خپلو نورو پوهنځیو په لېست کې اضافه کړ. د نوموړې په وینا، اوسمهال یاد پوهنتون د شپږو پوهنځیو په چوکاټ کې خپلې درسي چارې پر مخ وړي. آغلې ساغر سدوزۍ همدا راز زیاته کړه، چې دوی لوړو زده کړو وزارت ته د اعتبار ورکړې د دریو مرحلو په بریالۍ توگه بشپړولو سره وکولای شول چې د افغانستان د ټولو پوهنتونونو په سطحه لومړی مقام تر لاسه کړي.
آغلې ساغر سدوزۍ وایي، دوی اوسمهال ټول شپږ پوهنځي لري چې د یادو پوهنځیو دېپارتمنتونه یې په دې ترتیب دي: حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی یې دوه دېپارتمنتونه، قضا او څارنوالي او اداره او دېپلوماسي؛ اقتصاد پوهنځی یې مدیریت دېپارتمنت؛ شرعیاتو پوهنځی یې دوه دېپارتمنتونه، اسلامي تعلیمات او فقه او قانون؛ زراعت پوهنځی یې اگرانومي دېپارتمنت او انجنیري پوهنځی یې هم سېول دېپارتمنت لري چې په ټوله کې جامي پوهنتون د شپږو پوهنځیو او اووو دېپارتمنتونو په درلودلو سره خپلې درسي چارې پر مخ بیایي.
نوموړې وویل، دوی په جامي پوهنتون کې ټول څه باندې ۳۰۰۰ محصلین لري چې له دې ډلې یې شاوخوا ۳۰ سلنه ښځینه محصلینې دي او پاتې نور یې نارینه محصلین تشکیلوي.
آغلې سدوزۍ وایي، دوی لوړو زده کړو وزارت ته د اعتبار ورکړې د دریو مرحلو په بریالۍ توگه بشپړولو سره وکولای شول چې د ماسټرۍ پروگرام امتیاز هم تر لاسه کړي، چې اوسمهال جامي پوهنتون په دریو څانگو، جزا او جرم پېژندنه، نړیوالو اړیکو او اقتصاد کې د ماسټرۍ پروگرام لري چې ډېر محصلین پکې پر زده کړو بوخت دي.
د جامي پوهنتون د پذیرش برخې مسوولې آغلې ساغر سدوزۍ زیاته کړه، دوی تر دې دمه له طب پوهنځي څخه یوه دوره او له پاتې نورو پوهنځیو څخه په څلورو دورو کې محصلین فارغ او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي، البته د آغلې سدوزۍ په وینا، دوی تر دې دمه له ماسټرۍ پروگرام څخه محلصین نه دي فارغ کړي.
آغلې سدوزۍ همدا راز وویل، جامي پوهنتون له نېکه مرغه هر کال د هرات ولایت او په ټوله کې د افغانستان د لوړو زده کړو د خصوصي پوهنتونونو او موسسو په پرتله په زیاته کچه نوي محصلین جذبوي او د لوړو زده کړو اسانتیاوې ورته برابروي.
د آغلې ساغر سدوزۍ په وینا، دوی د خپلو هغو محصلینو لپاره چې مالي او اقتصادي وضعیت یې ښه نه دی، په خپل سمیسټر وار فیس کې د پام وړ تخفیف وړاندې کوي. د نوموړې په وینا، پر سمیسټر وار فیس سربېره دوی ډېری هغه محصلین چې کمزوری اقتصادي وضعیت ولري او د فیس د ورکړې توان ونه لري، د تحصیلي بورسونو په چوکاټ کې جذبوي او د لوړو زده کړو امکانات ورته برابروي.
آغلې سدوزۍ وایي چې دوی خپلو پوهنځیو ته په کتو په مختلفو درسي ټایمونو کې محصلین د لوړو زده کړو لپاره راغواړي، داسې چې د طب پوهنځي محصلین یې د سهارنۍ دورې په دوو درسي ټایمونو کې زده کړو ته حاضرېږي، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي محصلین یې په دریو دورو کې خپلو زده کړو ته حاضرېږي چې یوه یې سهارنۍ دوره ده، چې د سهار تر اتو بجو دوام کوي، دویمه دوره یې له اتو بجو پیل او د غرمې تر دوولسو بجو دوام کوي او درېیمه یې ماښامنۍ دوره ده چې د ماذیگر پر څلورو بجو پیل او د ماښام تر اوو بجو دوام کوي.
آغلې ساغر سدوزۍ د خپلو خبرو پر دوام وویل، دوی په جامي پوهنتون کې خپلو محصلینو ته یو لوی او مجهز کتابتون لري چې ډېری تخصصي او د تحصیلي رشتو اړوند کتابونه پکې دي، چې محصلین کولای شي وخت ناوخت مراجعه ورته وکړي، مطالعه یې کړي او د خپلې اړتیا وړ مالومات ترې تر لاسه کړي. د نوموړې په وینا، دوی پر یاد کتابتون سربېره الکترونیکي کتابتون هم لري چې زرگونه د ارزښت وړ الکترونیکي کتابونه پکې دي او محصلین ترې د خپلې علمي پانگې د لا بډاینې لپاره گټه اخلي. آغلې سدوزۍ همدا راز وایي، د جامي پوهنتون کتابتون ته د یاد پوهنتون پر محصلینو سربېره له نورو پوهنتونونو څخه هم محصلین د مطالعې لپاره راځي او خپل د اړتیا وړ مالومات تر لاسه کوي.
د جامي پوهنتون یادې مسوولې په خپلو خبرو کې وویل، دوی په هېواد کې د ننه او له هېواده د باندې له ډېرو پوهنتونونو او علمي مرکزونو سره علمي او اکاډمیکې اړیکې لري. د نوموړې په وینا، دا چې دوی د اعتبار ورکړې پروسه په بریالیتوب سره بشپړه کړې ده، نو ویلای شو چې جامي پوهنتون له دولتي پوهنتونونو سره په یوه سطحه کې قرار لري. آغلې سدوزۍ زیاته کړه، دوی په هېواد کې د ننه د هرات ولایت له دولتي پوهنتون سره متقابلې علمي اړیکې لري چې پر بنسټ یې د هرات دولتي پوهنتون ډېری استادان په جامي پوهنتون کې تدریسي چارې پر مخ وړي او همدا راز له هېواده د باندې د ځینو هېوادونو له پوهنتونونو سره علمي اړیکې لري چې له هغې ډلې کولای شو د ایران هېواد چابهار، فردوسي او ازاد پوهنتونونو او د هند هېواد له یوه پوهنتون او ډېرو نورو پوهنتونونو او علمي مرکزونو ته اشاره وکړو چې له هغوی سره د نېکو اکاډمیکو اړیکو پر اساس وخت ناوخت یو له بل سره علمي تجربې او لاسته راوړنې شریکوي.
آغلې ساغر سدوزۍ وویل، دوی په جامي پوهنتون کې ټول ۱۵۰ استادان لري چې ټول یې د ماسټرۍ او دکتورا تر کچو لوړې زده کړې لري. د نوموړې په وینا، دوی د لسانس په کچه استادان نه لري او ډېری استادان یې د دکتورا تر کچې لوړې زده کړې لري چې له دې ډلې یې ډېری اوسمهال د دکتورا په برخه کې پر لوړو زده کړو بوخت دي. نوموړې همدا راز وویل چې د جامي پوهنتون ۱۷ سلنه استادانې ښځې دي او پاتې نور یې نارینه استادان دي.
آغلې سدوزۍ وایي چې جامي پوهنتون په لوېدیځه حوزه کې لومړنی خصوصي پوهنتون دی، چې له لوړو زده کړو وزارت څخه یې د فارغو محصلینو د دیپلومونو تر لاسه کولو امتیاز خپل کړی دی او تر دې دمه یې خپلو ټولو فارغو محصلینو ته په لوړو زده کړو وزارت کې ثبت او راجسټر شوي اسناد ورکړي دي څو یې له حقوقو او امتیازاتو څخه گټه واخلي.
د جامي پوهنتون د پذیرش برخې یادې مسوولې وویل، دوی د خپلو محصلینو د علمي سویې د لا بډاینې لپاره ډېرې اسانتیاوې لري چې له دې ډلې کولای شو لوی او مجهز کتابتون، ارامې فضا، علمي سمینارونو، ورکشاپونو او پروگرامونو، کمپیوټر لب، د انگلیسي ژبې او کمپیوټر کورسونو، پراخ پارکېنگ، کفټریا، مجهزو استادانو او داسې نورو ته اشاره وکړو چې همدغه څه د دې لامل شوي څو جامي پوهنتون د هرات ښار او په ټوله کې د افغانستان په کچه تر ټولو ډېر جذب لرونکی پوهنتون شي.
د نوموړې په خبره، دوی د پوهنتون د پرمختگ او لا بډاینې لپاره خپل پلان په دوه عمده برخو وېشلی چې یوه برخه یې له نورو پوهنتونونو او علمي مرکزونو سره د اړیکو ټینگښت او پراخول دي او دویمه برخه یې په جامي پوهنتون کې د ماسټرۍ پروگرام ته پراختیا ورکول دي، چې د اعتبار ورکړې د پروسې له بشپړولو وروسته دوی هڅه کوي څو په لا ډېرو څانگو کې د ماسټرۍ پروگرام پیل کړي او جامي پوهنتون په علمي او اکاډمیکه برخه کې لا ډېرې لاسته راوړنې خپلې کړي.
آغلې ساغر سدوزۍ په پای کې له دولت او په ځانگړې توگه له لوړو زده کړو وزارت څخه مننه او کور وداني څرگنده کړه او هیله یې وښوده څو یو له بل سره د مرستې او همکارۍ له لارې وکولای شو په علمي ډگر کې یوه غوره موقف ته ورسېږو. نوموړې وویل چې په هېواد کې د خصوصي او دولتي دواړو پوهنتونونو پرمختگ او لاسته راوړنې د افغانستان په نوم تر نړیوالو پورې رسېږي. نوموړې له لوړو زده کړو وزارت څخه د خوښۍ تر څنگ وویل چې په ډېرو برخو کې یې ډېرې لاسته راوړنې او بریاوې درلودلې دي. آغلې سدوزۍ زیاتوي چې باید ټول په گډه د هېواد د علمي برخو د لا بډاینې او پرمختگ لپاره یو بل ته لاس ورکړو څو له روانو ناخوالو څخه د علم او پوهې پر مټ خلاصون ومومو.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۱,۸۰ |
| € | ۹۶,۴۰ |
| Rp. | ۵۰۳ |
| ₹ | ۱۰۸۰ |
| ¥ | ۱۲ |
| £ | ۱۱۰,۵۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# ولې مو درس نه زده کېږي او هر څه مو ژر له یاده وځي؟

شبانه پوپلزی

ځینې کسان وایي چې درس مې نه زده کېږي او که یې زده هم کړم، ژر مې له یاده وځي، یانې تمرکز نه لرم.
د دې ستونزې د حل لپاره څه باید وکړو؟ په دې لیکنه کې یې زموږ د ټولنې له حالاتو سره سم هغه حللارې درپېژنو، چې د هغو کارونو کول تاسې ته ناشوني نه وي.
دا ستونزه نن ورځ په ډېری کسانو کې لیدل کېږي، چې وایي درس مې نه زده کېږي او که زده یې هم کړم، ژر مې بېرته هېرېږي، چې د دې ستونزې لوی لامل زموږ د ټولنې ګډوډ حالت دی، چې د دې ټولنې اکثریت وګړي یې له ذهني نا ارامۍ سره مخ کړي.
د دې ستونزې د حل لپاره روان پوهان دا ډول نظر وړاندې کوي، چې سټرېس او اضطراب مو له منځه یوسئ او په مطالعه کې تمرکز ولرئ، د مطالعې وخت وټاکئ، یانې په هر وخت کې چې ستاسې مغز ښه جذب کولی شي، هغه وخت کې مطالعه وکړئ.
داسې یو ځای کې مطالعه وکړئ، چې ارامه وي او تاسې یوازې د درس په اړه فکر وکړئ، یا د درس او مطالعې لپاره باید یوازې او ارامه خونه ولرئ.
په داسې یوه خونه کې چې د کور ټول غړي ناست وي او خبرې کوي، هلته درس زده کول ناشوني دي، دا او دې ته ورته ډېرې نظریې وړاندې کوي، چې د هغو نظریو عملي کول زموږ په بېوزله ټولنه کې ناشوني دي، ځکه زموږ ډېری زده کوونکي او محصلین د زده کړو تر څنګ کار کوي، په ژوند کې ډول ډول نورې ستونزې لري، چې نه شي کولی د درس لپاره یو وخت وټاکي، هغه وخت چې دوی له کار څخه وزګارېږي، دوی درس وایي، نو ځکه ټاکلی وخت د مطالعې لپاره نه شي ټاکلی.
همدارنګه زموږ ډېری کسان له دوو زیاتې خونې نه لري، د کور ټول وګړي په یو خونه کې ژوند کوي، نو څنګه به وکولای شي، چې مطالعه په جلا او ارامه خونه کې وکړي، نو ایا دا ډول کسان به پرته له دې لارې د خپلې ستونزې لپاره حللاره ونه لري؟
نه! دا سې نه شي کېدای چې دا ستونزه دې د حل لار ونه لري. دا منم چې د اروپوهانو دا نظریې غوره او بریالۍ دي، خو زموږ د ټولنې لپاره غوره نه ګڼل کېږي. نو زما په اند زموږ په دود د یوې ټولنې لپاره دا ډول انګېزه ورکول پکار دي. موخه: کله چې مطالعه کوی او یا درس وایی، نو د ځان لپاره یوه موخه وټاکئ، دا درس ولې وایم؟ له دې مې موخه څه ده؟ څه مې په درد خوري؟ تر کومه حده یې باید ووایم؟
دا او دېته ورته نورې پوښتنې دې له ځان سره پیدا او بیا دې ځواب کړي، بیا دې د هغو موخو لپاره هڅه وکړي، څو ځان خپلې موخې ته ورسوي.
زموږ ډېری ستونزې له دې امله دي، چې د ټولنې ډېری وګړي مو نالوستي دي، اقتصادي وضع مو ښه نه ده.
که دا موخه هر یو ولرو، چې درس وایم او د خپل علم په واسطه ځان له دې بدمرغیو ژغورم، نو خامخا به یې درس زده شي.
له مطالعې سره مینه: که هر کار په علاقه وشي، هغه کار بریالی دی. هغه وخت چې یو انسان له کتاب او زده کړې سره مینه ولري، کله چې مطالعه پیل کړي، له فکره یې ټولې اندېښنې لرې کېږي او هغه ده چې په ښه ډول یوڅه زده کولی هم شي.
که یو کس له کتاب سره مینه ولري او هغه په علاقه سره ولولي، کتاب خپل نږدې ملګری وګڼي، هغه مهال نه وخت پرې اغېز کولی شي او نه هم چاپېریال، ځکه دا یوازې له خپل نږدې ملګري سره خبرې کوي او وخت او چاپېریال ورته ارزښت نه لري، چې څوک څه کوي او څه وایي.
ما خپله د کانکور په دوره کې په داسې یوه چاپېریال کې درس ویلی، چې هم به د کورنۍ ټولو غړو خبرې کولې او هم به ټلویزیون چالان و، خو پر ما یې ځکه هېڅ توپیر نه و چې ما د درس ویلو لپاره موخه درلوده او له کتاب سره مې مینه وه.
نو که له درس ویلو څخه موخه ولری او له کتاب سره مینه وکړی، خامخا به مو درس زده شي او هغه درس چې په علاقه وویل شي او ډېر تکرار شي هغه ژر هېرېږي هم نه.

# د طالبانو لاس ته د لویو سوداګریزو بندرونو لوېدو اندېښنې راپارولې دي



د هېواد د ځینو ولسوالیو او امنیتي پوستو له پرله پسې سقوط سره جوخت، مهمو او سترو سوداګریزو بندرونو ته متوجې امنیتي ګواښونو اندېښنې را پارولې دي. خو کورنیو چارو وزارت بیا وایي، چې د ټولو مهمو سوداګریزو بندرونه امنیت یې خوندي کړی او یوازې د کندز ولایت شېرخان بندر د طالبانو تر ګواښ لاندې دی.
د دغه وزارت ویاند طارق ارین وایي: «یوازې شېرخان بندر تر ګواښ لاندې و، زموږ امنیتي ځواکونه په ټولو سیمو کې حضور لري، طالبانو په ځینو بندرونو کې ګواښونه رامنځته کړي، خو دا ثابت نه دي او امنیتي او دفاعي ځواکونه هلته موجود دي او هر ګواښ چې رامنځته کېږي، ورته ځواب وایي.»
په افغانستان کې د ګڼو نورو بندرونو ترڅنګ د تخار ای خانم، د کندز شېرخان بندر، د هرات اسلام قلعه، اقینه او تورغونډۍ هغه مهم بندرونه دي چې د دغه هېواد ډېری عواید ترې راټولېږي. طالبان ادعا کوي چې ډېری دغه مهم بندرونه یې نیولي دي.
د دې ډلې ویاند ذبیح الله مجاهد وایي چې د تخار ای خانم، د کندز شېرخان بندر، د فراه ابو نصر فراهي، د هرات تورغونډۍ او اسلام قلعه بندرونه او د پکتیا پټان بندر یې نیولي دي، خو کورنیو چارو وزارت بیا د طالبانو دغه ادعا ردوي.
د چارو شنونکي او عام افغانان پر دې باور دي چې دا وضعیت د هېواد پر اقتصادي وضعیت منفي اغېز کولای شي او شونې ده چې طالبان له همدې لارې خپل مالي امکانات برابر کړي، خو د مالیې وزارت وایي، پر هغو بندرونو چې تراوسه طالبانو بریدونه کړي، د عوایدو او ارزښت له اړخه په دویمه کټګورۍ کې راځي او د هېواد پر ملي عوایدو منفي اغېز نه شي کولای.
د یاد وزارت د عامه اړیکو مشر او ویاند رفیع تابع وایي: «په خواشینۍ سره د هېواد دښمنانو تراوسه پر څلورو بندرونو بریدونه کړي چې هغه ډنډ پټان، ای خانم، اقینې او شېرخان بندرونه دي، خو د درجه بندۍ له اړخه دغه څلور ګمرکونه په دویمه او درېیمه کټګورۍ کې راځي چې د هېواد پر عوایدو ډېر منفي اغېز نه لري، په دې وروستیو کې طالبانو د هرات پر اسلام قلعه بندر هم برید کړی چې هلته یې د افغانستان خلکو او حکومت ته ډېر زیانونه اړولي دي.»

# راپورونه: په بنګله دېش کې د وروستۍ اورلګېدنې د مړو شمېر ۵۲ کسانو ته رسېدلی



د راپورونو په مخې، په بنګله دېش کې په یوه فابریکه کې د اور لګېدو له کبله لږترلږه ۵۲ کسان مړه شوي او ۳۰ نور ټپیان شوي دي.
د یاد هېواد د بېړنیو خدماتو اداره وایي چې دا پېښه پلازمېنې ډاکې ته نږدې په روپګاني صنعتي ښارګوټي کې د هاشم په نوم د خوراک او څښاک توکو په یوه تولیدي فابریکه کې شوې ده.
د بنګله دېش چارواکو اې پي خبري اژانس ته ویلي، چې دا اور د فابریکې په ودانۍ کې د پلاستیک او کېمیاوي توکو د زېرمه کېدو له کبله رامنځته شوی دی.
د دغه هېواد د اور وژنې اداري چارواکو ویلي چې ګڼ کسان تري تم دي او ښايي د د پېښې د قربانیانو شمېر تر دې هم لوړ شي. د راپورونو له مخې، دې فابریکې چې په یوې شپږ پوړیزه ودانۍ کې فعاله وه، د مېوې جوس، آش او شیریني تولیدات درلودل.
چارواکو ویلي چې دا اورلګېدنه د شپې رامنځته شوې، سلګونه کسان پکې پر کار بوخت وو او لا هم ګڼ کسان تري تم دي. په ورته مهال عیني شاهدانو ویلي، ډېری کارکوونکي له دې کبله ټپي شوي، چې د اور له لمبو د ژغورل کېدو لپاره یې د فابریکې له لوړو پوړیو ځانونه را غورځولي دي.
د یاد هېواد چارواکو اسوشېټېډ پرېس ته ویلي، ډېری نور کارکوونکي له دې کبله په تښتېدو کې پاتې راغلي، چې د ودانۍ چت ته د غځېدلې زینې دروازه تړلې وه. دا په څو وروستیو کلونو کې په بنګله دیش کې د خونړیو اورلګېدنو د لړۍ وروستۍ پېښه ده. په دغو اور لګېدنو کې سلګونو کسانو ته مرګ ژوبله هم اوښتې ده.
د بنګله دېش حکومت په ۲۰۱۳ز کال کې وروسته تر هغې په رغنیزو سټندرډونو کې د اصلاحاتو ژمنه وکړه چې په یاد هېواد کې په یوې اورلګېدنه کې تر ۱۱ سوه ډېر کسان ووژل شول، خو د حکومت منتقدان وایي چې په دغه هېواد کې د خوندیتوب سټنډرډونه لا هم پر معیار برابر نه دي او له همدې کبله پکې ګڼو کسانو ته د سر او مال زیانونه اوړي.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ډیزاین: حسیب الرحمن ساحل
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily
چاپخونه: وایګل چاپ
0202512626 / 0782989696

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ !

وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



یک شنبه د ۱۴۰۰ د چنګاښ ۲۰مه | د ۲۰۲۱ د جولای ۱۱مه | ۷۴۷مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۸ | ۳۶ | ۴۴ | ۳۸ | ۴۵ | ۳۷ |
| ۲۰ | ۲۳ | ۲۹ | ۲۹ | ۲۸ | ۲۴ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۶ | لمر ختل ۰۴:۴۹ | ماسپښین ۱۱:۵۹ | مازیګر ۰۴:۵۹ | ماښام ۰۷:۰۹ | ماخوستن ۰۸:۵۲

## نړۍ




## چین: امریکا با خروج عجولانه، افغانستان و منطقه را در آشوب رها کرده است



وزارت خارجه چین خروج امریکا از افغانستان را «عجولانه» خوانده و گفته است که این کشور بی‌توجه به مسولیت‌ها و تعهدات خود، آشفته‌گی و آشوب را برای مردم افغانستان و منطقه ایجاد کرده است.

وانگ ونبین، سخنگوی وزارت خارجه چین در یک نشست خبری گفته است که امریکا به عنوان مقصر ایجادکننده وضعیت کنونی افغانستان، نمی‌تواند از مسولیت‌های خود شانه خالی کند.

او گفت که امریکا باید مسولیت خود را در زمینه‌های امنیت، توسعه و نیازهای بشردوستانه در افغانستان بر عهده بگیرد و به تعهد خود احترام بگذارد و نیز انتقال روان در افغانستان را تضمین کند.به گفته سخنگوی وزارت خارجه چین، امریکا باید مطمین شود که خروج از افغانستان منجر به جنگ و تبدیل شدن این کشور به پناهگاهی امن برای تروریزم نمی‌شود.

سخنگوی وزارت خارجه چین، امریکا را متهم کرد که بین کار درست اخلاقی و منافع خودخواهانه، دومی را انتخاب کرده است. او افزود که امریکا با بی‌توجهی به مسوولیت‌ها و تعهدات خود از افغانستان با عجله خارج شد و مردم این کشور و منطقه را در دامن آشوب و آشفته‌گی رها کرده است.به گفته سخنگوی وزارت خارجه چین، این کار چهره «ریاکارانه» امریکا را تحت پوشش «دفاع از دموکراسی و حقوق بشر» آشکار کرد.

## ملګري ملتونه: د اوکراین په ختیځ کې په پرله پسې توګه زندانیان شکنجه کېږي

ملګري ملتونه وايي، د اوکراین د ختیځ په هغو سیمو کې چې د روسیې ملاتړي بېلتونپال پرې کنټرول لري، هره ورځ بندیان شکنجه کېږي او ناوړه چلند ورسره کېږي.

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمېشنرۍ مرستیالي ندي الناشف وايي چې په دونیڅک او د بېلتونپالو تر کنټرول لاندې د نورو سیمو په زندانونو کې جدي سرغړونې ترسره کېږي.

ناشف په جنیوا کې مېشتې د ملګرو ملتونو د بشري حقونو شورا ته د اوکراین په ختیځ کې د زندانونو، شکنجې او ناوړه چلند او دغه راز په کرېمیا کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه د راپور د وړاندې کولو پر مهال وویل چې دغه سرغړونې هره ورځ او په منظم ډول ترسره کېږي.

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د کمېشنرۍ مرستیالې دغه راز ویلي، کله چې په اوکراین کې نښتې پیل شوې، په ترڅ کې یې د دولت او د بېلتونپالو تر کنټرول لاندې سیمو کې له نیول شویو شاوخوا څلور زره بندیانو سره ناوړه چلند شوی او هغوی شکنجه شوي دي.

ناشف همدارنګه ویلي چې په کرېمیا کې چې روسیې په ۲۰۱۴ میلادي کال له خپلې خاورې سره ملحق کړې، روسیه د بشري حقونو او د بشر پالنې له نړیوالو قوانینو څخه پرله پسې سرغړونې کوي.

## بایډن: د هغو ډلو پرضد به جدي اقدام وکړو، چې له روسیې د امریکا ضد فعالیت کوي




سپینه ماڼۍ وايي، ولسمشر جو بایډن خپل روس سیال ولادیمیر پوتین ته ویلي، چې متحده ایالتونه به د هغو ډلو پرضد اقدام وکړي، چې له روسیې څخه فعالیت کوي او په سایبري بریدونو کې لاس لري.


په متحدو ایالتونو او نورو هېوادونو کې سایبري بریدونه له تېر یوه کال راهیسې زیات شوي دي. په دې ترڅ کې د امریکا په ختیځ کې د تېلو پر یوه پایپ لاین د برید په څېر لوی بریدونه هم شوي دي.

د سپینې ماڼۍ د بیان له مخې جو بایډن له ولسمشر پوتین سره په ټلیفوني خبرو کې چې یو ساعت یې دوام وکړ، وویل چې امریکا به د خپلو وګړو او هغو حساسو تاسیساتو دفاع وکړي، چې د سایبري بریدونو تر ګواښ لاندې دي.

بایډن دا څرګندونې وروسته له هغې کوي، چې د امریکا په فلوریډا ایالت کې دېره د کاسیا په نوم د سافټویرونو یو شرکت د باج اخیستونکو سایبري جنایتکارانو له خوا په نښه شو. د دغه برید په نتیجه کې په متحدو ایالتونو کې سلګونه او د نړۍ په کچه تر یو نیم زرو پورې شرکتونه زیانمن شوي دي.بایډن داسې مهال دغه څرګندونې کوي چې نږدې یوه میاشت وړاندې یې له پوتین سره په مخامخ لیدنه کې هم په دې تړاو اندېښنه ښودلې وه.

## ژوند


## د بډوډو د خرابېدو نښې



د انسان په بدن کې د ګردو مهمه دنده دا ده چې له وینې څخه یورک اسید یا زهرجنې مادې خارجوي. نو که له دغه ډول نښو نښانو سره مخ شوی، سمدستي ډاکټر ته مراجعه وکړئ. که چېرته پر مخ د ګونځې پیدا کېدو او د لاسونو پوستکي اغېزمنېدو له ستونزې سره مخ شوی او ترځنګ مو د سترګو پر شاوخوا حلقې وي، نو لومړۍ ستونزه له ګردو د یو ډول اوبو خارجېدل او په دویم کې له ګردو د پروټینونو خارجېدو ته اشاره کوي. که چېرته مو د خولې خوند خراب وي یا هم بیا بیا ځلې مو خوله پولۍ شوه، نو د ګردو د ناروغیو پر لور اشاره کوي او که چېرته خوب نه درځي او یاهم بشپړ خوب نه کوی، دا هم د ګردو د ناروغۍ نښه ګڼل کېږي. دغه راز که چېرته هره د مخ، لاسونو یا د بدن د کومې برخې له سوخت سره مخ وی، نو دا د ګردو د سوخت په سبب وي. نو په داسې حالاتو کې سمدستي ډاکټر ته مراجعه وکړئ.

## فیسبوک کلب هاوس ته ورته کاریال معرفي کړ

فیسبوک د غږیزو خبرو اترو مشهور کاریال، کلب هاوس ته ورته خدمتونه معرفي کړل. د فیسبوک دغه نوي ځانګړنه اډیو رومز نومول شوې دی. فیسبوک کمپنۍ د دغه اډیو رومز تر څنګ د پوډکاسټس سټریمېنګ ځینې ځانګړنې هم معرفي کړې. دغه ځانګړنې به تر ټولو وړاندې امریکا کې کاروونکو ته وړاندې شي. اډیو رومز په اصل کې کلب هاوس او د ټویټر اسپېسز ته ورته دی. د دغې ځانګړنې په مرسته غږیزې خبرې اترې په ژوندۍ بڼه خپرېدلی شي او د روم کوربه بحثونو لپاره نورو خلکو ته هم بلنه ورکولی شي. دغه ځانګړنه د فیسبوک لپاره ډېره مهمه ده او خپل کاریال کې به له سټوریز څخه پاسنۍ برخه کې یې ځای پر ځای کړي. اوسمهال یوازې د فیسبوک تصدیق شوي حسابونه د اډیو روم جوړولو اجازه لري، خو د فیسبوک ټول کاروونکي د هغوی غږ اورېدلی شي.





کوچني او منځني سوداګریز پورونه

عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کېږي، ترلاسه کړي.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank